حبیب الله رفیع- کابل


۲۹ سپتمبر ۲۰۱۵

## د هېواد دلويې ليکوالې او شاعرې اروابنادې خورشيد عطايي

## په ياد راټولو افغانانو!

خپل سلامونه وړاندي کوم او د خواخوږئ پيغام در استوم! له لوی خدای نه ددې لوی غم زغم درته غواړم!

اروابناده خورشيد عطايي هېوادپاله، حساسه او دردمنه ليکواله او شاعره وه، ټول ژوند يې که په هېواد کې د ننه ؤ او که بهر د هېواد په مينه کې تېر شوی، هېواد ته يې خدمت کړی، د هېواد د خدمت هيلې يې درلودلې او کله چې له هېواده را مهاجره شوه د خپلو هېوادوالو خدمت يې ندی هېر کړی.

دې د هېواد په دواړو ژبو پښتو او دری خپل احساسات څرګندول او د خپل ملي شخصيت تثبيت يې پکې کاوه، شاعري يې د افغانانو د دردونو، کړاوونو او د هېواد له مينې نه ډکه وه، دې په هېواد کې د ننه هم شعري مجموعه خپره کړې وه او له هېواد بهر يې هم دې لړی ته دوام ورکړ او خپل شعرونه يې په بېلابېلو مجموعو کې خپلو هېودوالو ته وړاندي کړل.

خور خورشيد عطايي بالاخره په ابدي سفر له دې نړی څخه روانه شوه، خو ددې ادبي پانګه به تل دا ژوندی ساتي او هېوادوال به يې شعري پيغامونه اوري او خوند به تري اخلي.

زه يو ځل بيا د دې پاکې اروا ته دعا کوم، د لوی خدای ج له درباره ورته جنتونه غواړم او تاسو ته د دې درانه غم د زغملو همت غواړم او لوی خدای دې اجرونه درکړې.

امين

حبيب الله رفيع

کابل - افغانستان

۱۳۹۴ کال د وږي ۲۸